# د الله پاک رضا
# د ټولو نه لوئي نعمت دے

21-July-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

په 21 جولائي کال 2022ء د پاکستان په هفته واره اجتماع کښې کيدونکے بيان

# د الله پاک رضا د ټولو نه لوئي نعمت دے

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د اللّٰه پاک نه رضا کيدل څه ته وائي؟
- ـــ جنّت ته بوتلونکي 3 عملونه
- ـــاللّٰه پاک چې په کوم حال کښې اوساتي، هغه بهتر دے
- ـــد اللّٰه پاک د رضا کولو طريقه
- ـــد رَبّ په رضا د رضا کيدو د پاره څه اوکړو؟

## پيشکش

اَلْمَدِيْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبہ بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ شريف فضيلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک**: خپل مجلسونه په ما باندې په دُرُود شريف لوستلو ښائسته كړئ، ستاسو له خوا په ما دُرُود شريف لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نور وي-[1]

تیری اِک اِک ادا پر اے پیارے　　سَو درودیں فدا، ہزار سلام
وہ سلامت رہا قیامت میں　　پڑھ لئے جس نے دِل سے چار سلام[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديث شريف كښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنّةَ ښه نيت بنده جنت ته

1...جامع صغير، صفحه:280، حديث:4580-
2...ذوقِ نعت، صفحه:171170-

بوځي-[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي- راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د اللہ پاک د رضا د پاره به بيان اورم. ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ ښه په توجو به بيان اورم ❀ څه چې واورم د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اللہ پاک نه رضا کيدل څه ته وائي؟

حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا د اللہ پاک وليه ده، ډيره نيکه او عبادت ګزاره وه، يوه ورځ هغې تشريف اينښودے وو، د هغې په مخکښې يو کَس دُعا اوکړه: چې يا اللہ پاکه! زما نه رضا شې-

دا دُعا بالکل جائزه ده، عام طور داسې دُعا غوښتلے هم شي خو د اوليائے کامِلينو خپل ځانګړے انداز دے، چې حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا د هغه کَس د خُلې نه دا دعا واوريدله نو اوئې فرمائيل: اے انسانه! تا له شرم نه درځي---؟ د اللہ پاک نه د هغه رضا غواړې خو ته پخپله د هغه نه رضا نه ئې-

1...مسندفِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔



www.dawateislami.net

خوا کښې ناست يو کَس عرض اوکړو: **بنده چې د الله پاک نه رضا شي** د دې څه معنیٰ ده؟ اوئې فرمائيل: چې د مصيبت په وخت کښې هم ستا هغه همره خوشحالي وي څومره چې د نعمت ميلاويدو په وخت وي، بيا به وئيلے شي چې ته د الله پاک نه رضا ئې-(1)

| | |
|---|---|
| تاج و تخت و حکومت مت دے | کثرتِ مال و دولت مت دے |
| اپنی رِضا کا دیدے مُژدہ | یاالله مری جھولی بھر دے (2) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## جنّت ته بوتلونکي 3 عملونه

حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے، هغوئي فرمائي: يو ځل د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما لاس اونيولو او اوئې فرمائيل: يَا اَبَا سَعِيْدٍ ثَلَاثَةٌ مَنْ قَالَهُنَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ يعني اے ابو سعيده! د دريو څيزونو چې څوک اقرار اوکړي، هغه به جنّت ته ځي- حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! هغه درې څيزونه کوم کوم دي؟ اوئې فرمائيل: مَنْ رَضِیَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَ بِالْاِسْلَامِ دِيْناً وَ بِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا، **(1):** يعني څوک چې د الله

---

1...احياء العلوم، جلد:5، صفحه:166بتغير قليل۔

2...وسائل بخشش، صفحه:123۔

پاک په رَبّ منلو، **(2):** د اسلام په دين منلو او **(3):** او د مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په رسول منلو رضا شو-[1]

په يو حديث شريف کښې د وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ الفاظ دي، يعني کوم بنده چې د الله پاک په رَبّ منلو، د اسلام په دين منلو او د مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په رسول منلو رضا شو، د هغه د پاره جنّت واجب کيږي-[2]

| | |
|---|---|
| تاج و تخت و حکومت مت دے | کثرتِ مال و دولت مت دے |
| اپنی رِضا کا دیدے مژدہ | یاالله! مری جھولی بھر دے[3] |

## د ايمان خوږوالے نصيب کيږي

د خوږ نبي مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ تره، حضرت عباس بن عبد المطلب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ذَاقَ طَعْمَ الْاِيْمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا خوک چې د الله پاک په رَبّ منلو، د اسلام په دين منلو او د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نبي منلو رضا شو، هغه د ايمان خوږوالے بياموندلو-[4]

علمائے کرام فرمائي: لکه څنګه چې زمونږ په ژبه کښې د څکلو او ذائقې (خوند)

1...مسند احمد، جلد:4، صفحه:29، حديث:11102-

2...مسلم، باب بيان ما اعده الله، صفحه:753، حديث:1884-

3...وسائل بخشش، صفحه:123-

4...ترمذی، کتاب الایمان، صفحه:618، حديث:2623-

محسوسولو صلاحيت اينبودے شوے دے، دغه شان زمونږ په زړه کښې هم د رُوحانياتو (مثلاً د عبادتونو وغيره) د خوند محسوسولو صلاحيت اينبودے شوے دے- ۞ چې مونږ په خپله ژبه څه څيز کيږدو نو مونږ ته پته لګي چې دا څيز خوږ دے يا تريخ، يخ دے يا ګرم دے- ۞ دغه شان چې مونږ لمونځ کوو نو زمونږ زړه د لمونځ مزه محسوسوي ۞ کله چې مونږ روژه نيسو نو زړه مو د روژې مزه محسوسوي ۞ چې مونږ تلاوت کوو ۞ ذِکر واَذکار کوو ۞ د نيکئ دعوت ورکوو ۞ نعت شريف وايو ۞ عِلمِ دين زده کوو، غرض چې هره يوه نيکي کوو، زمونږه په زړونو کښې د دغه څيزونو د مزې محسوسولو صلاحيت اينبودے شوے دے خو څنګه چې مونږ بعضې وخت ناروغه شو، تبه مو شي نو زمونږ د خُلې خوند بدل شي، هر يو څيز تريخ تريخ لګي، دغه شان چې کله زړه بيمار وي، په زړه د غفلت پردې پرتې وي، زړه په ګناه کولو سره تور شي، تڪبر، ځان خوښي، د دنيا مينه، د مال مينه وغيره باطني بيمارياني په زړه کښې ديره شي نو زمونږ زړه هم بيمار شي، بيا نه لمونځونو کښې خوند وي، نه د روژو نيولو خوند وي، نه په نيکو کښې زړه لګي، تر دې پورې چې د زړه نه د ايمان نور او د هغې مزه اووځي، د چا چې داسې حالت وي، هغوئي له پڪار دي چې د خپل زړه علاج اوکړي او د دې عِلاج طريقه څه ده؟ زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته يوه طريقه دا ارشاد فرمائيلې ده چې بنده د الله پاک په رَبّ منلو، د اسلام په دين منلو او د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نبي منلو د ريښتوني زړه سره رضا شي، د دې په برکت

به د ګناهونو تور والے لرې شي، زړه به صفا شي او ده ته به د ایمان نورانیت محسوسیدل شروع شي-[1]

شیخِ مُحَقِّق، علّامه عبد الحق محدِّثِ دهلوي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: چې کوم بنده په دې دریو خبرو (د الله پاک په رَبّ منلو، د اسلام په دین منلو او د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نبي منلو) د زړه د کومي نه رضا نشي، هغه د ایمان مزه نه څَکي، د هغه سره په ظاهره ایمان خو شته خو د ایمان رُوح هغه ته نه حاصلیږي-[2]

ہر دم ابلیس پیچھے لگا ہے | حفظِ ایمان کی التِجا ہے
ہو کرم اَمنِ روزِ جزا کی | میرے مولیٰ تو خیرات دیدے[3]

## د رضا د دریو درجو وضاحت

اے عاشقانِ رسول! **الله پاک زما رَبّ دے** په دې د رضا کیدو څه معنیٰ ده؟ په دې باره کښې علمائے کرامو د **رضا** درې درجې بیان کړې دي:

## د رضا وړومبئ درجه

علّامه قُرطبي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: **الله زما رَبّ دے** په دې د رضا کیدو یوه معنیٰ دا ده چې بنده د الله پاک نه سیوا بل هیڅوک خپل رَبّ نه مني، مثلاً کانړي، ونې، سپوږمۍ،

1...لمعات التنقیح فی شرح مشکاۃ المصابیح، کتاب الایمان، جلد:1، صفحه:7978، تحت الحدیث:9 خلاصةً-
2...لمعات التنقیح فی شرح مشکاۃ المصابیح، کتاب الایمان، جلد:1، صفحه:78، تحت الحدیث:9-
3...وسائل بخشش، صفحه:125124-

لمر، ستوري يا د دې نه علاوه هغه ټول څيزونه کوم چې مُشرکان خپل رَبّ ګڼړي، بنده د دې ټولو نه د انڪار کولو سره په رينښتوني زړه سره دا اقرار اوکړي چې الله پاک يو دے، د هغه نه سيوا هيڅوک د عبادت لائق نشته، هغه زما رَبّ دے، هغه ما له رِزق راکوي، هغه زما روزنه پالنه کوي، هغه ماته ساه ګاني راعطا کړې، هغه ما له ژوند راکوونکے دے، د هغه نه سيوا نه بل څوک رَبّ وو، نه دے او نه به وي-[1]

اللہ واحد و یکتا ہے | ایک خدا بس تنہا ہے
کوئی نہ اس کا ہمتا ہے | ایک ہی سب کی سنتا ہے[2]

د رضا دا درجه زمونږ د ايمان بنياد دے، د دې نه بغير خو انسان د سره هډو مسلمان کيدے نشي-

## د رضا دويمه درجه

**الله پاک زما رَبّ دے** په دې د رضا کيدو يوه دويمه درجه ده، د دې وضاحت کولو سره حضرت داتا ګنج بخش علي هجويري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: رضا دا ده چې په منع او عطا دواړو حالاتو کښې د زړه کيفيت يو شان وي-[3]

1...المفهم لما اشكل من تلخيص مسلم، جلد:1، صفحه:210ماخوذاً۔
2...سامانِ بخشش، صفحه:33۔
3...كشف المحجوب، صفحه:255۔



www.dawateislami.net

يعني چې الله پاک نعمت عطا کړي، بيا هم زړه مطمئين وي او چې د الله پاک د طرف نه ازميښت راشي نو په هغې هم زړه مطمئين پاتې شي، دې ته وائي! د الله پاک په رَبّ منلو رضا کيدل-

## ښه او بد تقدير د الله پاک د طرف نه دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا څه نا اشنا خبره نه ده، مونږ د ماشومتوب نه لولو او اورو: وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰی هر ښه او بد تقدير د الله پاک د طرف نه دے، که مونږ ته نعمت ميلاؤ شي ❁ دا هم د الله پاک د طرف نه دے ❁ که څه ازميښت راشي، دا هم د الله پاک د طرف نه دے ❁ که مال ميلاؤ شي، دا هم د الله پاک د طرف نه دے ❁ که غُربيي راغله، دا هم د الله پاک د طرف نه ده ❁ صِحَّت د الله پاک د طرف نه دے ❁ بيماري هم د الله پاک د طرف نه ده، غرض هر ښه او بد تقدير د الله پاک د طرف نه دے، ځکه چې کله بنده دا اقرار اوکړو چې زه د الله پاک په رَبّ منلو رضا يم نو هغه له پکار دي چې هغه د الله پاک په هره فيصله رضا وي، که چرې په نعمت ميلاويدو خوشحاليږي نو پکار ده چې په ازميښت راتلو هم خوشحاله شي، د الله پاک په يوه فيصله هم په زړه کښې خيرے را نه ولي، نه په خُله ګِله راولي-

آؤ! د الله پاک نه په دنيا او آخرت کښې د خير او عافيت دعا کولو کښې هم څه باک نشته!



www.dawateislami.net

اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡۤ اَسْاَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ (اے الله! زه ستا نه په دنيا او آخرت کښې د معافئ او هرې بدئ نه د عافيت سوال کووم)۔

## د ځوي په وَفَات په مُسکا شو---!

حضرت فُضَيل بن عياض رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئي ولئ کامِل دے، خلقو هغوئي چرته هم په مُسکا نه وو ليدلي، د الله پاک نه ويره، د قبر او آخرت، حساب کتاب، پلِ صراط او د دوزخ په عذابونو وغيره کښې به ئې غور او فِکر کولو۔

د حضرت فُضَيل بن عياض رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځوي دے:

حضرت علي بن فُضَيل بن عياض رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه۔ هغوئي هم ډير نيک، متقي، پرهيزګاره، د الله نه ويريدونکے او د مور پلار ډير فرمانبرداره وو، د حضرت فُضَيل بن عياض رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په باره کښې نقل دي چې هغوئي به سورۀ زِلزَال پوره نشو لوستلے، په سورۀ زَلزَال کښې د قيامت د ويرې د ماحول بيان دے، ځکه چې کله به هغوئي سورۀ زِلزَال لوستلو يا اوريدلو نو د الله پاک د ويرې نه به هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه راپريوتل۔ دومره د الله پاک نه د ويرې والا وو۔

حضرت علي بن فُضَيل بن عياض رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لا اوس ځلمے وو چې د هغوئي انتقال اوشو، هر صاحبِ اولاد په دې پوهيږي چې د ځلمي ځوي مرګ څومره دردناک وي خو قربان شم! حضرت فُضَيل بن عياض رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته چې کله دا خبر ورکړے شو چې

ستاسو څوي وفات شوے دے نو هغوئي اونه ژړل، ژړا اَنګوَلا ئې اونکړه بلکه د هغوئي په مخ خندا خوره شوه- خلق ډير حيران شول، اوئې پوښتل: عالي جاه! عجيبه معامله ده، عام طور تاسو مُسکا نه کوئ، نن ستاسو ځلمے څوي وفات شوے دے، اوس د غمژن کيدو موقع ده، د اوښکو بهيدو موقع ده او تاسو مُسکا کوئ، حضرت فُضَيل بن عياض رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ډير ښکلے جواب ورکړو، اوئې فرمائيل: **د الله پاک رضا دغه وه، ځکه زه د هغه په رضا، رضا يم-**[1]

زندگی اور موت کی ہے یاالٰہی کشمکش | جاں چلے تیری رِضا پر بیکس و مجبور کی[2]

**الله اکبر!** دې ته وائې، د الله پاک په رَبّ منلو رضا کيدل، الله پاک زما رَبّ دے، هغه چې زما په باره کښې کومه فيصله هم اوکړي، زما قبوله ده، د زړه د کومې مې قبوله ده، ښه په خوشحالئ مې قبوله ده- آه! افسوس! زمونږ حال بالکل اُلټا دے، زمونږ خو که يو ګلاس مات شي نو مونږ د غصې نه تک سره شو، که ناڅاپه بجلي بنده شي نو ګوريدل شروع کړو، که ګاډے پنچر شي نو مونږ ئې نشو برداشت کولے، که يخني زياته شي، ګرمي زياته شي، معمولي شان تبه مو شي، صرف يوه ورځ مو د دُکان آمدن کم شي، تنخواه ليټ شي نو زمونږ په زړه کښې وسوسې راځي، په ژبه مو ګِلې راځي-

---

1...تذکرۃالاولیا، صفحه:68خلاصةً-

2...وسائل بخشش، صفحه:96-

الله! الله! هغه څومره عظيم خلق وو، د ځلمي او ډېر متقي، فرمانبرداره ځوي انتقال ئې اوشو او حضرت فُضَيل بن عياض رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه مُسكا كوله، ولې---؟ ځكه چې د رَبّ رضا دغه وه-

جے سوہنا میرے دُکھ وِچ راضی میں سُکھ نُوں چلھے پاواں

**وضاحت:** يعني زما په خفګان كه زما رَبّ رضا كيږي نو ماته د خوشحالۍ هډو حاجت نشته، زما دا خفګان قبول دے-

## د رضا دريمه دَرجه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! **الله پاک زما رَبّ دے** په دې د رضا كيدو يوه دريمه دَرجه هم ده او دا هغه درجه ده چې هر مسلمان له خو **كم از كم** په دې درجه لازمي اوسيدل پكار دي- دا درجه څه ده؟ حضرت ابو علي دَقَّاق رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: رضا دا نه ده چې بنده ته تكليف هډو محسوس كيږي نه بلكه رضا دا ده چې بنده د الله پاک نه ګِله نه كوي-[1]

تكليف راورسيدو، مصيبت راغلو، چرته خوږ شو، څوک نزدې ګس مو وفات شو، غُريبي راغله، بيماري راغله، دا څيزونه ورته محسوس كيږي، كه زړه غمژن شي، كه د ستركو نه اوښكي رواني شي، دې كښې هيڅ باک نشته خو دا ضروري نه ده چې په زړه كښې وسوسې راشي نو دې ته توجو نه وركوي، په ژبه ګِلې نه راولي بلكه بنده د زړه نه

1...رساله قشيريه، رضا كا بيان، صفحه:358 بتغير قليل-

د الله پاک په فيصله رضا وي- حُضُور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اَلْاِعْتَرَاضُ عَلَى الْحَقِّ مَوْتُ الدِّيْنِ وَ مَوْتُ التَّوْحِيْدِ وَ مَوْتُ التَّوَكُّل يعني په الله پاک اعتراض کول د دين هم مرګ دے، د تَوحيد هم مرګ دے او د توکُّل هم مرګ دے-[1]

## په الله پاک اعتراض کفر دے

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسنّت حضرت علامه، مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپل ځانګړي **کتاب کفريه کلمات کے بارے میں سوال جواب** په صفحه: 141 او 142 ليکي: چې په الله پاک اعتراض کول قطعي کُفَر دے او مُعترِض (اعتراض کوونکے) کافِر او مُرتَد دے، په الله پاک د اعتِراض نه د بچ کيدو شريعت کښې حکم دے او هر مسلمان ته د شريعت حکم په سر سترګو منل دي- الله پاک خالِق او مالِک دے، د هغه د پيدا کړے شوي بنده له خوا په هغه باندې اعتراض کول د هغه ډير غټ توهين (سپکاوے) دے- مسلمان له پکار دي چې د الله پاک هر کار د حکمت نه ډک ګڼړي که د هغه په عقل کښې هغه کار راځي او که نه- په خُله خو غټه خبره ده خو په زړه کښې دې هم اعتِراض له ځائے نه ورکوي-[2]

اے خُدائے مصطفٰی! مغفرت کر! واسطہ اَصحاب
ایمان پر ہو خاتمہ و اٰلِ بیت کا

1...الفتح الربانی، مجلس اول، صفحه:109۔
2...کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، صفحه:142141۔

## رضا ولې ضروري ده؟

اے عاشقانِ رَسُول! مونږ بنده ګان يو او بنده ته دا حق نه دے حاصل چې هغه د خپل کريم رَبّ په فيصله اعتراض اوکړي، الله پاک زمونږه رَبّ دے، هغه مونږه پيدا کړو، هغه مونږ له ژوند راکړو، هغه مونږ له رِزق راکوي، هغه زمونږ د پاره زمکه فرش اوغوړوله، هغه زمونږ د پاره د اودې آسمان چهت جوړ کړو، هر قسمه نعمتونه مونږ له هغه راکوي، هغه زمونږ خالِق دے، هغه زمونږ مالک دے، مونږ خو بنده ګان يو او د بنده دا حق دے چې د خپل رَبّ په فيصله رضا شي- که اَصل کښې اوکتے شي نو اعتراض د الله پاک په فيصله نه بلکه زمونږ په هغه خواهشونو جوړيږي کوم چې د الله پاک د خوښې نه علاوه دي، مثلاً الله پاک زه غريب کړم، د دې باوجود زما په زړه کښې د مالداره کيدو خواهش دے نو پکار ده چې زه دې خپل خواهش ته بد اووائيم، آخر د بنده په زړه کښې داسې خواهش ولې راځي کوم چې د رَبّ د خوښې خلاف دے؟ اِمامِ قشيري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ليکي: د تقدير نه چې څه ظاهر وي، د هغې مخې ته خپل اختيارات پريښودل، دې ته عُبُودِيَّت (يعني بندګي) وئيلے شي- [1] حضرت رُوَيم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: که چرې د بنده په ښئ لاس ټول دوزخ کيښودے شي نو (په

1...رساله قشيريه، عبوديت کا بيان، صفحه:364بتغير قليل۔

دې اعتراض کول خو غټه خبره ده، هغه له پکار دي چې) دا هم نه وائي چې يا الله پاکه! دا په ګس لاس کيږده- (1)

په يو حديثِ قُدسي کښې دي، الله پاک فرمائي: صرف زه يم، زما نه سيوا څوک هم د عبادت لائق نشته، بس څوک چې زما په (ورکړے شوي) مصيبت صبر اونکړي، زما د نعمتونو شکر ادا نکړي او زما په تقدير رضا نه وي، هغه له پکار دي چې زما نه علاوه بل رَبّ اوګوري- (2)

اَلْاَمان والحفيظ! **خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** اوګورئ! څومره درديدونکے کلام دے، کوم بنده چې د الله پاک په تقدير، د هغه په فيصلو نه رضا کيږي، دا داسې ده لکه چې هغه ذليله کولے شي، هغه ته وئيلے شي چې هغه د **بنده** وئيلو حق نه لري- اَصل کښې **بنده** خو هغه دے کوم چې د رَبِّ کريم په فيصلو رضا وي-

کس کے در پر میں جاؤں گا مولیٰ | گر تُو ناراض ہو گیا یاربّ (3)

## بنده توب (بنده کيدل) څه ته وائي؟

مخکښې دور کښې به غُلامان باقاعده طور بازارونو کښې خرڅيدل، يو ځل حضرت ابراهيم بن اَدهَم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته د يو غلام حاجت پيښ شو، هغوئي بازار ته تشريف

---

1...رساله قشيريه، رضا کا بيان، صفحه:360-

2...معجم کبير، جلد:22، صفحه:321، حديث:807بتغير-

3...وسائلِ بخشش، صفحه:80-

يوړلو، يو غلام ئې واخستو او کور ته ئې راوستو، هغوئي د هغه غلام نه پوښتنه اوکړه: ستا څه نوم دے؟ غلام اووئيل: په کوم نوم چې مې تاسو رابلئ، هغه به زما نوم وي، هغوئي پوښتنه اوکړه چې ته د کوم خوراک خوړلو عادت لرې؟ غلام اووئيل: څه چې ته راکوې خورم به ئې، بيا ئې پوښتنه اوکړه: چې څه خواهش دې وي اووايه! غُلام اووئيل: څه چې ستاسو خواهش دے، هغه زما هم خواهش دے- زه خو غُلام يم او د غلام د دې خيزونو سره څه تعلق نه وي- په دې حضرت ابراهيم بن اَدهم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په سوچ کښې ډوب شو: کاش! چې زه هم د الله پاک داسې اطاعت گزار وے نو څومره به ښه وه- [1]

اے عاشقانِ رَسُول! دې ته وائي، بنده (يعني غلام) کيدل، بنده هغه کَس وي د چا چې خپل څه خواهش نه وي، د چا چې خپله څه خوښه نه وي، بنده هميشه د خپل مالِک په خوښه روان وي، ځکه مونږ له هم پکار دي چې که غربت راشي، پريشاني راشي، مصيبت راشي، چې څه هم وي، مونږ د الله پاک په فيصله مطمئين يو، کله هم کِلي شکايت په ژبه نه راولو-

## الله پاک چې په کوم حال کښې اوساتي، هغه بهتر دے

امام شَعراني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د بنده د پاره د بندگۍ شان دا دے چې بنده په هر حال

1...تذکرۃالاولیا، حضرت ابراہیم ادھم، صفحہ:78۔

کښې د الله پاک نه رضا وي، په يوه معامله کښې هم زړه خيرن والي ته پرې نه ږدي، څه چې ورته ورکړے شوي دي، هغه د هغې نه د زياتو خواهش نه کوي، ځکه چې الله پاک زمونږ نه زيات زمونږ په خير پوهيږي، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ عَسٰۤى اَنْ تَكْرَهُوْا شَیْــٴًـا وَّ هُوَ خَیْرٌ لَّكُمْۚ وَ عَسٰۤى اَنْ تُحِبُّوْا شَیْــٴًـا وَّ هُوَ شَرٌّ لَّكُمْؕ وَ اللّٰهُ یَعْلَمُ وَ اَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ۠﴿۲۱۶﴾ (پاره:2،سورهٔ بقره:216) | ترجمهٔ کنزُ الایمان: او نزدې ده چې يوه خبره په تاسو بده اولګي او هغه ستاسو په حق کښې بهتره وي او نزدې ده چې کومه خبره ستاسو خوښه شي او هغه ستاسو په حق کښې بده وي او الله پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ۔ |

امامِ شعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې نه معلومه شوه چې الله پاک څه عطا کړي دي، په کوم حال کښې ئې ساتلي يو، که چرې بنده د هغې نه علاوه څه بل څه اوغواړي نو لکه چې هغه د دې خبرې دعویٰ کوي چې هغه د الله پاک نه زيات علم لرونکے دے او د بنده د جاهلتوب د پاره بس دومره هم کافي ده۔[1]

اَلْاَمان وَالْحَفِيْظ! اے عاشقانِ رَسُول! غور اوکړئ! که چرې مونږ د الله پاک په رضا نه رضا کيږو، الله پاک چې مونږ له څه راکړي دي، په هغې نه رضا کيږو، په کوم حال کښې چې الله پاک ساتلي يو، په هغه حال کښې نه خوشحاليږو نو اوګورئ! خبره څومره لرې ځي، دا لکه چې د دې خبرې دعویٰ ده چې بنده د الله پاک نه زيات عِلم

1...انوار القدسيه في بيانِ آداب العبوديه، صفحه:30۔

لرې حالانکه داسې هيڅکله هم نشي کيدے، صرف د الله پاک عِلم کامِل دے، ځوک هم د هغه نه د زيات عِلم والا نشته، هغه ته د خپل عِلمِ ازلي نه پته وه او څه چې زمونږ په حق کښې بهتر وو، هغه ئې راعطا کړه- ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ په هر حال کښې د الله پاک په رضا، رضا شو-

## ښپه ولې زخمي شوه---؟

د حضرت لقمانِ حکيم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په باره کښې نقل دي، چې هغوئي يوه ورځ خپل ځوي ته اوفرمائيل: تاته چې کومه معامله هم درپيښه شي، که په تا ښه اولګي او که بد، په خپل زړه کښې دا ساته چې هغه ستا په حق کښې بهتر دي- ځوي ئې عرض اوکړو: بابا جانه! دا خبره راته لږه په وضاحت سره اوفرمائيئ! داسې څنګه کيدے شي چې هره خبره زما په حق کښې بهتره وي؟ حضرت لقمانِ حکيم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه اوفرمائيل: په يو کلي کښې د الله پاک يو نبي عَلَيۡهِ السَّلَام تشريف فرما دے، راځئ! د هغوئي په خدمت کښې حاضريږو، هغوئي به مونږ په ډير ښه انداز کښې پوهه کړي- نو دواړو (پلار او ځوي) د سفر سامان راوخِست، دواړه په څناورو (سورلو) سواره شول او د عِلمِ دين زده کولو د پاره روان شول، ډيره ګرمي وه، سفر اوږد وو، په لاره کښې خوراک او اوبه ختمې شوې، دواړه پلار او ځوي ستړي هم شو، څناور هم ستړي شو، اوس دا دواړه صاحبان د څناورو نه کوز شول او پيدل روان شو، په لاره تلل چې ډير لرې حضرت لقمانِ حکيم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته لوګے په نظر راغلو، لږه طمع ئې پيدا شوه چې

آبادي نزدې ده خو دې سره ورته يوه سخته هم راپيښه شوه، يو نوک والا (تيره) هډوکے وو، هغه د هغوئي د ځوي په ښپه کښې لاړو او بل طرفته ترې اووتلو، وينه ترې روانه شوه، د ځوو ورځو مُسافر، سخته ګرمي، اوبه هم نشته، خوراک هم نشته، په داسې حالت کښې چې وينه اووتله نو د حضرت لقمانِ حکيم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه شهزاده په زمکه راګُزار شو او بے هوشه شو، د ځوي دې حالت ليدلو سره د حضرت لقمانِ حکيم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په سترګو کښې اوښکې راغلې، هغوئي ډيره په ګرانه هغه هډوکے د هغوئي د ښپې نه راويستو، پټئ ئې پرې اولګوله، چې لږ ښه شو نو ځوي ئې په هوش کښې راغلو، اوس د هغوئي ځوي عرض اوکړو: بابا جانه! مونږ مُسافر يو، سخته ګرمي ده، اوبه هم ختمې شوې دي، په دې حالت کښې زه زخمي هم شوم، نه مونږ د وړاندې تلو لائق يو، نه بيرته تلے شو، زمونږ خو څوک پوښتنې والا هم نشته، اووائيئ! دا هر څه زما د پاره بهتر کيدے شي؟ حضرت لقمانِ حکيم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: ځويه! دا کوم مصيبت چې مونږ ته رارسيدلے دے، کيدے شي چې د دې په ذريعه څه غټ مصيبت زمونږ نه لرې کړے شوے وي- اوس دا خبرې کيدې چې حضرت لقمانِ حکيم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د لرې نه يو کَس د دوئي طرفته راتلونکے اوليدلو، هغوئي لږ مطمئين شو خو زر هغه د سترګو نه پناه شو، بيا هغوئي يو آواز واوريدلو: اَنۡتَ لُقۡمَان آيا ته لقمان ئې؟ اوئې وئيل: آؤ جي! زه لقمان يم- پوښتنه ئې اوکړه: حکيم لقمان؟ اوئې وئيل: **خلق خو هم داسې وائي-** پوښتنه کوونکي بيا اوپوښتل: ستا ځوي څه وئيلي دي؟

حضرت لقمانِ حکيم رَحْمَةُاللہِعَلَيۡه اوپوښتل: ته څوک ئې؟ مخامخ ولې نه راځې؟ آواز راغلے: زه جبريل يم، زه صِرف نبيانو او فرښتو ته ښکارم۔ اوئې وئيل: که چرې ته جبريل ئې، بيا خو به تاسو زمونږ د حال نه خبر ئې؟ حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام اوفرمائيل: الله پاک زه په يو ښار د عذاب نازلولو د پاره ليږلے ووم، کله چې زه هلته اورسيدم نو ماته معلومه شوه چې تاسو دواړه هم د هغه ښار طرفته روان ئې، نو ما الله پاک ته سوال اوکړو: اے الله پاکه! دا دواړه دغه ښار ته د ننوتو نه منع کړې، زما دعا قبوله شوه او ستاسو ځوي په تکليف کښې مبتلا شو، که چرې داسې نه وو شوي او تاسو هغه ښار ته داخل شوي وے نو تاسو به هم د ښار والوو سره په عذاب کښې ګير شوي وے۔[1]

الله! الله! اے عاشقانِ رَسُول! معلومه شوه، زمونږ سره چې څه هم کيږي، ښه کيږي، الله پاک چې مونږ په کوم حال کښې هم ساتي، هغه حال زمونږ په حق کښې بهتر دے۔ ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ د الله پاک په رضا، رضا شو، چرته هم په زړه کښې خيرے نه راولو، نه په خُله ګِلې کوو۔

## الله پاک ټولو له کمال ورکړے دے

حضرت موسٰی او حضرت هارون عَلَيۡهِمَا السَّلَام چې د فِرعَون خوا له، د دې نيکئ د دعوت

1...الرضا عن الله بقضائه لابن ابي الدنيا، حکايات عن الراضين، صفحه:63، 62۔

ورکولو د پاره تشریف یوړلو نو فِرعَون پوښتنه اوکړه:

| | |
|---|---|
| قَالَ فَمَنْ رَّبُّكُمَا یٰمُوْسٰى ﴿۴۹﴾ (پاره:16،سورۂ طٰهٰ:49) | ترجمۂ کنزُ العرفان: اے موسٰی! نو ستاسو د دواړو رَبّ څوک دے؟ |

د دې په جواب کښې حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام اوفرمائیل:

| | |
|---|---|
| قَالَ رَبُّنَا الَّذِیْۤ اَعْطٰى كُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ﴿۵۰﴾ (پاره:16،سورۂ طٰهٰ:50) | ترجمۂ کنزُ العِرفان: موسٰی اوفرمائیل: زمونږه رَبّ هغه دے چا چې هر څیز له د هغه خاص شکل او صورت ورکړو بیا ئې لار اوښودله- |

مُفَسّرِینِ کرامو چې د دې آیت کوم وَضَاحت فرمائیلے دے، د هغې مطابق د دې مطلب دا دے چې رَبّ هغه دے چا چې هر څیز د یو خاص مقصد د لاندې، په خاص کړے شوي صلاحیت پیدا کړو، بیا ئې هر څیز ته د هغه د کار مطابق شکل هم عطا کړو، بیا ئې هر څیز ته د هغه د صلاحیت او کار مطابق اسباب هم ورکړل او د دې سره سره ئې هغه اسباب په استعمال کښې ښنګ راوستل دي، د هغې هدایت هم اوکړو- مثلاً اللہ پاک سترګې د کتو د پاره پیدا کړې، په هغې کښې ئې د لیدو صلاحیت هم پیدا کړو، غوږونه ئې د اوریدو د پاره پیدا کړل، غوږونو ته ئې د هغې د کار مطابق شکل او صورت هم ورکړو او د اوریدو صلاحیت ئې هم ورکړو، بیا کمال دا دے چې د هر یو څیز یو خاص مقصد دے، او یو خاص کار دے، غوږونه اوري، لیدے نشي،

سترګې ويني، اوريدے نشي، دغه شان د کائنات هر څيز د خپل يو بيل مقصد د لاندې، د خپل بيل کار د پاره جوړ کړے شو، هر يو څيز ته د هغه د صلاحيت او کار مطابق شکل او صورت هم ورکړے شو، اَسبَاب ئې هم ورکړه او د هغه اَسبَابو د استعمالولو هدايت ئې هم عطا کړو-[1]

امامِ شَعراني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د دې آيت په وضاحت کښې فرمائي: دا آيت تقاضا کوي چې الله پاک د خپل حکمتِ بالغه مطابق چې چاته څه عطا کړي دي، د هغه د پاره هغه کمال دے ۞ نبيانو ته ئې نبوت عطا کړو د هغوئي په حق کښې نبي کيدل کمال دے ۞ وَلِيّانو ته ئې وِلايت عطا کړو د هغوئي په حق کښې وِلايَت کمال دے ۞ عالمانو ته ئې عِلم عطا کړو، د هغوئي په حق کښې عِلم کمال دے، غرض چې چاته څه هم عطا شو، هغه ته کمال عطا کړے شول-[2]

په دې داسې پوهه کړئ چې د الله پاک د بارګاه نه چاته څه هم ميلاؤ شوي دي، 100 فيصده ميلاؤ شوي دي، چاته هم کم نه دي ورکړے شوي، آؤ! د هر يو 100 فيصده د هغه د صلاحيت او طاقت مطابق دي- مثال طور د نَرسَرئ يو طالبِ عِلم دے، که هغه ته په نَرسَرئ کښې 100 فيصده نمبرې ورکړے شي نو هغه به کوم کلاس ته رسي؟ پرَيپ ته- دغه شان د بي اے يو طالب علم دے، که هغه ته 100 فيصده نمبرې ورکړے

1...روح المعانی، پاره:16، سورۂ طه، تحت الآية:50، جز:16، جلد:8، صفحه:683بتغير قليل-

2...انوار القدسيه فی بيان آداب العبوديه، صفحه:30-

شي نو هغه به کوم کلاس ته رسي؟ ايم اے ته- دا فرق ولې؟ دوارو ته خو 100 فيصده نمبرې ميلاؤ شوې دي نو يو پريپ ته او بل ايم اے ته ولې اورسيدو؟ واضحه خبره ده، نمبرې که دوارو ته برابر (يعني 100 فيصده) ميلاؤ شوې خو د دوارو صلاحيتونه مختلف وو، د دوارو قابليتونه مختلف وو، فرض کړئ چې نَرسَرئ والا په 100 نمبرو ميلاويدو ايم اے کښې کښينولے شي يا بي اے والا په 100 نمبرو ميلاويدو پريپ کښې کښينولے شي نو دواړه به خپل توازُن بائيلي، دواړه به اَن بيلنس شي-

دغه شان دُنيا کښې الله پاک هر يو کَس ته کمال ورکړے دے، څوک چې مالداره دے، هغه ته هم 100 فيصده ميلاؤ شوي دي او څوک چې غريب دے، هغه ته هم 100 فيصده ميلاؤ شوي دي، البته د هر يو قابليت جُدا دے، د هر يو طاقت جُدا دے، که چرې غريب ته 150 فيصده ورکړے شوے وے او هغه مالداره کړے شوے وے يا مالداره ته 50 فيصده ورکړے شوے وے او غريب کړے شوے وے نو د دوارو توازُن به خراب شوے وے، دواړه به اَن بيلنس شوے وے خو قربان شم! الله رَبُّ العالمين دے، هغه هر چا له 100 فيصده  عطا کړل او چا له ئې چې څه ورکړه، د هغه په حق کښې هغه کمال دے-

حديثِ قُدسي کښې دي، الله پاک فرمائي: زما څه بنده ګان هغه دي د چا په حق کښې چې غُربت ښه دے، که چرې ما هغوئي مالداره پيدا کړے وے نو د هغوئي حال به خراب شوے وے او بعضې بنده ګان هغه دي د چا په حق کښې چې مالداره کيدل ښه دي، که



www.dawateislami.net

چرې ما هغوئي غريبانان پيدا کړے وے نو د هغوئي حال به خراب شوے وے-[1]

خُدا! تجھ سے تیری وِلا مانگتا ہوں　|　میں عشقِ شہِ اَنْبیا مانگتا ہوں
اِلٰہی! نہیں مانگتا مال و دولت　|　فَقط تجھ سے تیری رِضا مانگتا ہوں[2]

## د هغه خو هم ړنديدل ښه دي

د الله پاک نبي حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام يو ځل د نهر په خوا تيريدلو، هغوئي اوکتل چې ماشومان په نهر کښې لامبي، د هغوئي سره يو ړوند ماشوم هم وو چا له چې به هغوئي په اوبو کښې غوپه ورکړه او اخوا ديخوا به ترې اوتختيدل او هغه به هغوئي لټول خو کاميابيدو به نه- د حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام د هغه په حال رحم راغلے، هغوئي د الله پاک په بارګاه کښې دُعا اوکړه: يا الله پاکه! ده له هم د سترګو نظر ورکړې- الله پاک د هغوئي دعا قبوله کړه او هغه ماشوم له ئې د سترګو نظر ورکړو چې کله هغه سترګې برسيره کړې او ماشومان ئې اوليدل نو يو ماشوم ئې ګير کړو او په اوبو کښې ئې ورله دومره غوپې ورکړې چې هغه مَړ شو، بيا ئې بل ماشوم را اونيولو او په اوبو کښې ئې دومره غوپې ورکړې چې هغه ئې هم ووژلو، د دې منظر ليدو سره حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام ډير خفه شو او هغوئي دعا اوکړله: يا الله پاکه! دا خو ړوند ښه وو- نو د هغه د سترګو نظر بيرته بوتلے شو-[3]

---

1...مرقاة المفاتيح، کتاب الدعوات، جلد:5، صفحه:314، تحت الحديث:2459۔

2...وسائلِ فردوس، صفحه:1۔

3...آنسوؤں کا دریا، صفحه:252 خلاصةً۔

اے عاشقانِ رَسُول! چې الله پاک هر يو کَس له کمال ورکړے دے، د رَبِّ کريم د بارګاه نه چې چاته څه هم ميلاويږي، هم 100 فيصده ميلاويږي، هر يو کَس چې په کوم حال کښې دے، هغه حال د هغه په حق کښې بهتر دے نو اووائيئ! د ګِلو او شکايتونو ګنجائش څه پاتې کيږي، ګِله خو هله کيږي، کله چې زمونږ سره انصاف نه کيږي، ناانصافي خو راسره هډو شوې نه ده، هر يو ته کمال ورکړے شوے دے، چې هر يو د هغه د قابليت او صلاحيت مطابق په ښه حالت کښې ساتلے شوے دے نو زمونږ حق جوړيږي چې مونږ په هغې رضا شو، د دې باوجود که هم څوک د الله پاک په رضا، رضا نه دي، ګِلې کوي، هغه خو لکه چې دا غواړي چې سترګې واوري او غوږونه اووينې، دا خو واضحه جهالت دے، غوږونه د ليدو د پاره نه د اوريدو د پاره دي، سترګې د اوريدو د پاره نه بلکه د ليدو د پاره دي، څکه چې الله پاک څوک په کوم ځائے اوساتل، په کوم حال کښې ئې اوساتل، هغه له پکار دي چې په هغې رضا شي، کله هم په خُله ګِلې او شکايت نه کوي۔

## د (هغه) په رضا د رضا کيدونکو د پاره زيرے

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: طُوْبٰى لِمَنْ هُدِيَ لِلْاِسْلَامِ وَكَانَ رِزْقُهٗ كَفَافًا وَرَضِيَ بِهٖ يعني زيرے دے د هغه چا د پاره چاته چې د اسلام هدايت ورکړے شو، قدرِ کفايت رِزق ورکړے شو او هغه په هغې رضا دے۔[1]

1...احياء العلوم، جلد:5، صفحه:159، ترمذی، کتاب الزہد، صفحه:561، حديث:2349مفهوماً۔

## د قبرونو نه د اَلوَتو سره جنّت ته تلونکي

په يو حديث شريف کښې دي: کله چې د قيامت ورځ شي نو الله پاک به زما د اُمَّت يوې ډلې ته وَزَرې ورکړي، په کومو چې به هغوئي د خپلو قبرونو نه والوځي او جنّت ته به لاړ شي او هلته ئې چې ځنګه خوښه وي مزې به کوي- فرښتې به د هغوئي نه پوښتنه کوي: آيا ستاسو سره حساب شوے دے؟ هغوئي به وائي: زمونږ سره حساب نه دے شوے- فرښتې به ترې بيا پوښتنه کوي: آيا تاسو په پلِ صراط تير شوي ئې؟ هغوئي به جواب ورکوي: مونږ پلِ صراط نه دے ليدلے- بيا به فرښتې پوښتنه کوي: آيا تاسو دوزخ اوليدو؟ هغوئي به وائي: مونږ يو څيز هم نه دے ليدلے- بيا به فرښتې وائي: تاسو د چا اُمتيان ئې؟ هغوئي خوش قسمته جنتيان به وائي: مونږ د امامُ الانبيا، حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتيان يو- فرښتې به وائي: مونږ تاسو له د الله پاک قسم درکوو، اووائيئ په دنيا کښې ستاسو څه عملونه وو؟ هغوئي به جواب ورکړي: زمونږ دوه عادتونه وو، د کومو په وجه چې د الله پاک په فضل او کرم مونږ دې مرتبې ته راورسيدو، (1): مونږ چې به يواځې وو نو په هغې کښې به مو هم د الله پاک د نافرمانئ نه حيا کوله او (2): مونږ به د الله پاک په لږ رِزق هم رضا وو- [1]

| | |
|---|---|
| تاج و تخت و حکومت مت دے | کثرتِ مال و دولت مت دے |
| اپنی رِضا کا دیدے مُژدہ | یاالله مری جھولی بھر دے [2] |

1...قوت القلوب، شرح مقام التوكل ووصف احوال المتوكلين، جلد:2، صفحه:65-

2...وسائل بخشش، صفحه:123-

الله اکبر! اے عاشقانِ رَسُول! اندازه اولګوئ! د قيامت 50 زره کاله اوږده ورځ، د قبرونو نه به پاڅو او د حشر ميدان ته به ځو، آه! هغه د تانبې سره شوې زمکه، په پاؤ باندې يو ميل فاصله باندې اور وروونکے لمر، سخته ګرمي، بيا اَعمال نامه په لاسو کښې ورکول، د حساب کتاب معامله، بيا په پلِ صراط د تيريدو مرحله، پلِ صراط هم څنګه؟ د ويښته نه نرے، د تورې نه تيره، 1500 کاله اوږه لاره، دلته به خلق په داسې خطرناک حالت کښې وي او هلته به د الله پاک په رضا، رضا کيدونکي، ځانله کيدو کښې هم د ربِّ کريم د نافرمانئ نه بچ کيدونکي به د قبرونو نه د اَلوَتلو سره جنّت ته رسي، نه به د حشر د ميدان ګرمي ويني، نه حساب کتاب، نه پلِ صراط----!! سُبْحٰنَ الله! اندازه اولګوئ! دوئي به څومره خوش قسمته وي- کاش! مونږ هم داسې شو، کاش! مونږ هم د الله پاک په رضا، رضا کيدونکي، ځانله او د خلقو په مخکښې د ګناهونو نه بچ کيدونکي، د خپل رَبِّ کريم فرمانبرداره بنده ګان جوړ شو-

## د الله پاک د رضا کولو طريقه

امامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د الله پاک د طرف نه به چې بنده ته په آخرت کښې کوم انعامونه عطا کولے شي، په هغې کښې د ټولو نه لوئي او د ډيرې اعلیٰ درجې انعام دا دے چې الله پاک د بنده نه رضا شي-(1) الله پاک په قرآنِ مجيد کښې فرمائي:

1...احياء العلوم، جلد:5، صفحه:157-

| ترجمۂ کنزُ العرفان: او د الله رضا د ټولو نه لوئي څيز دے- | وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ (پاره:10،سورۂ توبه:72) |
| --- | --- |

يعني د جنّت په نعمتونو کښې به د ټولو نه لوئي نعمت دا وي چې الله پاک به د جنتيانو نه رضا وي، چرې به ترې هم نه خفه کيږي-(1)

خوږ نبي، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: الله پاک به جنّت والؤ ته فرمائي: اے جنتيانو! آيا تاسو رضا شوئ؟ د جنت والا به عرض اوکړي: مولیٰ! ولې به نه يو رضا تا مونږ له هغه نعمتونه راکړل کوم مو چې چا له هم نه دي ورکړي- الله پاک به فرمائي: زه به د دې ټولو نه تاسو له ډير اعلیٰ نعمت درکړم، د جنت والا به عرض اوکړي: مولیٰ! د دې نه افضل کوم څيز کيدے شي؟ الله پاک به فرمائي: زه به ستاسو نه رضا يم او چرې به هم نه خفه کيږم-(2)

معلومه شوه، چې د الله پاک رضا ميلاويدل دا د آخرت په انعامونو کښې د ټولو نه لوئي انعام دے او دا ميلاويږي څنګه؟ امامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا (د آخرت د ټولو نه د لوئي انعام) په شکل کښې ميلاويږي چې بنده دنيا کښې د الله پاک نه رضا وي-

يو ځل بني اسرائيلو د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام په خِدمت کښې عرض اوکړؤ: اے د الله پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام ! د الله پاک نه د داسې عمل په باره کښې پوښتنه اوکړئ چې

1...تفسير خازن، پاره:10، سورۂ توبه، تحت الآية:72، جلد:2، صفحه:261-

2...بخاری کتاب التوحيد، باب کلام الرب مع اہل الجنة، صفحه:1812، حديث:7518-

مونږ کله هغه عمل اوکړو نو اللّٰه پاک زمونږ د ټولو نه رضا شي- حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام د رَبِّ کريم په بارګاه کښې د بني اسرائيلو مُدّعا وړاندې کړه، په دې اللّٰه پاک اوفرمائيل: اے موسٰی! بني اسرائيلو ته اوفرمايا! هغوئي دې زما نه رضا شي، زه به د هغوئي نه رضا شم- (1)

د شيخ ابو علي دَقاق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو شاګرد به فرمائيل: ماته دا پته لګي چې اللّٰه پاک زما نه رضا دے او که نه؟ پوښتنه اوکړے شوه: هغه څنګه؟ اوئې فرمائيل: کله چې زه د رَبّ نه رضا شم نو هغه هم زما نه رضا وي- (2)

## سيلاب اودريدو---!!

وئيلے شي: په يو کلي کښې يو نيک بزرګ اوسيدو، ټولو خلقو به د هغه ډير عزّت کولو، په هغه به ئې دعاګانې کولې، د هغه کلي په خوا يو درياب تيريدو، يو ځل داسې اوشو چې د درياب بَند مات شو، اوبه د کلي په لور رواني شوې، خلق پريشانه شو او په منډه منډه د نيک بزرګ په خِدمت کښې حاضر شول، د دعا د پاره ئې عرض اوکړو، هغه نيک بزرګ اوفرمائيل: لاړ شئ! ټول خلق بيلچې او نور سامان راوړئ! ټول خلق زر زر لاړل او بيلچې وغيره ئې راوړلې او حاضر شول، نيک بزرګ پخپله هم يوه بيلچه راواخسته او ټول ئې د ځان سره کړل او د درياب خوا ته لاړل، خلقو دا ګنړل چې د

---

1...احياء العلوم، جلد:5، صفحه:160-

2...رساله قشيريه، رضاكا بيان، صفحه:358-

درياب بند ترې خو هغه نيک بنده د هغې اُلټا اوکړل، د درياب د بند ترلو په ځائے ئې، چې کوم باقي پاتې (بند) وو، د هغې په راماتولو ئې هم لاس پورې کړو، دې ليدو سره خلق ډير خفه شول او واپس لاړل- اوس د خلقو سره بله لار نه وه، ټول په ويره کښې وو، د سيلاب نه د بچ کيدو د پاره ئې بال بچ د ځان سره روان کړو او د کورونو چهتونو ته اوختل، د ډير وخت تيريدو نه پس هغوئي اوليدل، د درياب اوبه کومې چې د کلي په لور راوانې وې، اودريدې او هغه نيک بزرګ په اوګه بيلچه ايښودې وه او واپس ئې تشريف راوړلو- ټول ډير حيران وو چې څه قيصه ده؟ د چهتونو نه راکوز شول او زر زر د نيک بزرګ په خدمت کښې حاضر شول، پوښتنه ئې اوکړه: جناب! څه قيصه ده؟ سيلاب څنګه اودريدو؟ اوئې فرمائيل: ما باقي پاتې بند راماتولو، چې د غيب نه آواز راغلے: اے بنده! ولې ئې ماتوې؟ ما عرض اوکړو: يقيناً دا بند د الله پاک په خوښه مات شوے دے، چې د الله پاک خوښه دا ده چې د درياب اوبه د کلي په لور لاړې شي نو زه په دې رضا يم او د اوبو لاره پرانيزم- آواز راغلے: اے بنده! چې ته زما په رضا، رضا ئې نو لاړ شه! زه ستا رضا پوره کووم- بس په دې وجه سيلاب اودريدو-

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه، که چرې مونږ د الله پاک په رضا، رضا شو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! الله پاک به زمونږ نه رضا شي او چې الله پاک زمونږ نه رضا شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! هر څه به موسم شي- الله پاک دې مونږ له د هغه په رضا د رضا کيدو توفيق رانصيب کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د رَبّ په رضا د رضا کيدو د پاره څه اوکړو؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د الله پاک په رضا د رضا کيدو عادت جوړولو د پاره ډيرې زياتې طريقې خپليدے شي، مثلاً د الله پاک په رضا د رضا کيدو فضيلتونه اولولئ، د الله پاک نيک بنده ګان کوم چې به هميشه د هغه په رضا، رضا کيدل، د هغوئي سيرت اولولئ (د هغې د پاره د **احياء العلوم، جلد: 5 نه د رضا بيان** لوستل ګټه ور دے)، دغه شان په تکليف، مصيبت، پريشانۍ، غريبۍ وغيره د ميلاويدونکو ثوابونو لوستل اوکړئ (مثلاً د شيخِ طريقت، اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **غريب فائدے ميں ہے** او **بيمار عابِد** د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د الله پاک په رضا د رضا کيدو ذهن جوړ شي-

پيرانِ پير، حضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله پاک په رضا د رضا کيدو د پاره 2 آساني طريقې ښودلې دي، هغوئي فرمائي: **(1):** کوم ګس چې د الله پاک په رضا، رضا کيدل غواړي، هغه له پکار دي چې مرګ هميشه ياد ساتي ځکه چې د مرګ ياد د دنيا مصيبتونه آسانوي **(2):** په کومه خبره چې په زړه کښې ګِله راشي نو په هغه خبره دې د ګِلې په ځائے، د الله پاک نه سوال اوکړئ، مثلاً څوک غريب شو يا څوک بيمار شو، نو اوس د هغه په زړه کښې وَسوَسې راځي نو هغه له پکار دي چې د غريبۍ ګِله نه کوي بلکه د الله پاک په بارګاه کښې سوال اوکړي: چې اے الله پاکه! زما نه غريبي لرې کړې، يا الله پاکه! ما د بيمارۍ نه جوړ کړې-



www.dawateislami.net

داسې خپل زړه د ګِلو او شکايتونو په ځائے، په دعا کښې مشغول ساتئ- د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! زړه سپک شي او که الله پاک اوغوښتل نو د رَبِّ کريم په رضا به د رضا کيدو توفيق هم ميلاؤ شي-[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د سحر لمونځ د پاره پاڅول

اے عاشقانِ رسول! د الله پاک د رضا حاصلولو، نيک لمونځ ګزاره جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي په 12 ديني کارونو کښې عملاً برخه واخلئ! د دعوتِ اسلامي په 12 ديني کارونو کښې يو کار دے : **د سحر لمونځ د پاره پاڅول**، ياد ساتئ! د سحر د لمونځ د پاره خلق پاڅول د آخري نبي، نبئ اُمِّيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي- اَلْحمدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونکي عاشقانِ رسول د سرکارِ عالي وقار، د مديني د تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّت د عمل کولو د جذبې لاندې د سحر لمانځه نه مخکښې کوڅه په کوڅه ګرځي او په چغه درود او سلام لولي او خلقو ته د بسترو پرېښودو سره د سحر لمونځ کولو د پاره د تللو دعوت ورکوي- تاسو هم په دې ديني کار کښې برخه واخلئ، سحر وختي پاڅئ، که الله پاک مو نصيب کړي نو د تهجدو لمونځ کوئ، ذِکر او درود شريف لولئ، د سحر د لمانځه نه پس د مدني مرکز د ورکړے شوې طريقې مطابق خلق د سحر د لمانځه د پاره پاڅوئ، د دې عمل په برکت سره به اِنْ شَآءَ اللّٰه الْكَرِيْم! ډير

---

1...الفتح الربانی، صفحه:111۔



www.dawateislami.net

ثوابونه اوګټئ-

## د کلمۀ پاک وِرد ئې شروع کړو

د پنجاب، اوکاړې ضلعې د ديپالپور ښار د يو اسلامي وررور بيان دے: زما تره محمد رفيق عطاري د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن نيولې وه او د شيخ طريقت، رهبرِ شريعت، امير اهلِسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ مُريد وو، خلق د سحر لمانځه د پاره پاڅول د هغه معمول وو، سحر وختې به پاڅيدو او لرې لرې به تللو او مسلمانان به ئې د سحر لمونځ د پاره پاڅول، د دې عادت په وجه په ټول ديپالپور کښې مشهور وو، يو ځل د فيصل آباد نه واپس کور ته راتللو، چې د ماسخوتن د لمانځه وخت شو نو ګاډے ئې اودرولو او لمونځ ئې ادا کړو او بيا په سفر روان شو، ګاډے تيز روان وو، چې ناڅاپه محمد رفيق عطاري په تيزه تيزه کلمه اووئيله او اوئې فرمائيل: ټول کلمه اووائيئ، ټولو کلمه اووئيله، لږ وخت پس ګاډي يوه ناڅاپي تيزه جهټکه اوخوړله او ګاډے کندې ته پريوتو، ټول خلق معمولي زخميان شول خو محمد رفيق عطاري ډير زخمي شو، د سخت تکليف باوجود د هغوئي په خُله کلِمه جاري وه او ما شَآءَ اللّٰه! قسمت ته اوګورئ! په کلمه وئيلو وئيلو د دنيا نه رخصت شو-

فضل و کرم جس پر بھی ہوا، لب پر مرتے دَم کلمہ | جاری ہوا، جنت میں گیا، لَآاِلٰہَ اِلَّااللّٰہ

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د لمونځونو د وختونو د ايپ پيژندګلو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن د لمونځونو وختونه په نوم جاري کړے دے ❁ د دې ايپلي کيشن په ذريعه په ټوله دنيا کښې په هر ځائے کښې د لمونځونو وختونه او د قبلې اړخ معلوميدے شي ❁ د دې نه علاوه د پينځوؤ وارو لمونځونو د وختونو د مياشتې ټائم ټيبل ❁ ذِکرونه (روحاني علاج) ❁ مدني چينل ريډيو ❁ د لمانځه په وختونو کښې د موبائل سائلنټ (خاموشه) کولو سهولت او اسلامي کلينډر موجود دے۔ په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د ځينو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم۔ د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

1...مشکوٰۃ،کتابُ الْاِیمان،بابُ الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

## کم خوراک سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے

**د رسول الله** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامين: (1):** کله چې بنده کم خوراک کوي، د هغه باطن د نور نه ډک شي-[1] **(2):** څوک چې په دُنيا کښې کم خوراک کوي، کمې اوبه څکي، الله پاک د فرښتو په مخکښې په هغوئي فخر کوي-[2]

**اے عاشقانِ رسول!** کم خوراک سُنَّت دے- ❁ زمونږ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د لوږې نه کم خوراک کولو، ❁ هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې تر څو پورې په دنيا کښې تشريف فرما وو، چرې ئې هم پرله پسې 2 شپې په مړه ګېډه اونه خوړله ❁ هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د لوږې په وجه په ګېډه مبارکه پسې کانړې تړل-

**د خوراک د مِقدار په باره کښې اَحکام:** ❁ د لوږې ساتلو سره خوراک کول سُنَّت دي ❁ چې څومره لوږه وي، هغه همره خوړل مُبَاح دي (يعني په هغې کښې نه ګناه، نه ثواب دے) ❁ دومره په مَړه ګېډه خوړل چې د ګېډې خرابيدو ګمان وي، حرام دي ❁ دومره په مړه ګېډه خوړل چې د ګېډې خرابيدو انديښنه نه وي، مکروه دي ❁ په خوراک کښې دومره کمے راوستل چې په فرائضو ادا کولو کښې خنډ شي، ناجائزه دي-[3]

---

1...جامع صغير، صفحه:233، حديث:3831-

2...مَجْمَعُ الزَّوائِد، کتابُ الْاَدب، باب حُسْنِ اَخلاق کے بيان ميں، جلد:8، صفحه:19، حديث:12687-

3...بهارِ شَرِيْعت، حصه:16، جلد:3، صفحه:374ملخصًا-

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبۃ المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 100 مخونو کتاب **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو یوه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| غم کے بادَل چَھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو |
| رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کُھلیں، قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځۍ چې مونږه

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

**جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَّا هُوَ اَهْلُهٗ**

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه

---

1...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

3...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵



www.dawateislami.net

چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب    صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵